قسم په هغه ذات چې د محمد روح يې په لاس کې دی، له دې امت څخه چې هر څوک؛ که هغه يهودي وي يا نصراني، زما په اړه خبره شي، او بيا پداسې حال کې مړ شي چې په هغه څه يې ايمان نه وي راوړی چې زه پرې رالېږل شوی يم، مګر دا چې هغه به له دوزخيانو څخه شي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «قسم په هغه ذات چې د محمد روح يې په لاس کې دی، له دې امت څخه چې هر څوک؛ که هغه يهودي وي يا نصراني، زما په اړه خبره شي، او بيا پداسې حال کې مړ شي چې په هغه څه يې ايمان نه وي راوړی چې زه پرې رالېږل شوی يم، مګر دا چې هغه به له دوزخيانو څخه شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم يادوي چې لدې امت څخه چې هر يهودي يا نصراني او يا بل چاته د نبي صلى الله عليه وسلم بلنه ورسيږي او بيا مړ شي پداسې حال کې چې پر ده يې ايمان نه وي راوړی مګر دا چې له دوزخيانو څخه به وي او د تل لپاره به يې پاتې شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3272